# د تاوتريخوالي ډکو اعمالو د قربانيانو لپاره د زيان جبران کولو خدمات

## آيا تاسي د تاوتريخوالي ډکو اعمالو قرباني شوي يې؟

آيا تاسي په قصدي او غيرقانوني ډول د بريد سره مخ شوي يې او د دغه تاوتريخوالي ډکو اعمالو په پايله کې زيان من شوي يې؟ يا دا چې تاسي د تاوتريخوالي د قرباني څخه پاتي شوي يې؟ پدې صورت کې تاسي کولی شئ د زيان د جبران ادعا وکړئ.

## موږ ستاسي لپاره څه کار کولی شو.

د هامبورګ د تامين (Versorgungsamt) اداري له دندو څخه يوه د آزاد او بندري ښار هامبورګ په محدوده کې د تاوتريخوالي قربانيانو ته د ملاتړ وړاندې کول دي کې ژوند کوي. پدې تړاو حقوقي اساس د **قربانيانو د زيان د جبران قانون (OEG)** دی.

موږ غواړو تاسي ته معلومات درکړو چې د هامبورګ د تامين اداره څنګه کولی شي تاسي سره مرسته وکړي او څنګه کولی شئ خپلې ادعاوې او غوښتنې وړاندې کړئ. که چيري د دې بروشور په تړاو پوښتنې لرئ، د تامين اداري کارمندان په خورا ليوالتيا سره تاسي ته پدې تړاو نور معلومات در کوي. د اړيکي معلومات، د مراجعې وختونه او د ځای نقشه د دې پاڼې شاته شتون لري.

## آيا تاسي د ملاتړ خدماتو د ترلاسه کولو ادعا لرئ؟

تاسي کولی شئ د قربانيانو د زيان د جبران قانون (OEG) مطابق خدمات لاسته راوړئ، که چيري د تاوتريخوالي له امله د جسمي، روحي يا رواني زيان سره مخ شوي يې. د پاتي شوي په حيث (کونډه، يتيم، احتمالاً والدين هم) که چيري د تاوتريخوالي ډک عمل سمدلاسه يا د يوڅه وخت وروسته د قرباني د مړيني لامل شي، تاسي حق لرئ چې د ملاتړ خدماتو د ترلاسه کولو ادعا وکړئ.

که چيري مړينه د تاوتريخوالي ډک عمل له امله نه وي، نو کونډې او يتيمان د ځانګړي دمخه شرطونو له مخې مرسته ترلاسه کوي. په آلمان کې ميشت بهرني اتباع، بهرني سيلانيان او ميلمانه هم د زيان د جبران مقرراتو کې په پام کې نيول کيږي. پدې تړاو نور معلومات د هامبورګ د تامين اداري نه لاسته راوړی شئ.

## د قربانيانو د زيان د جبران قانون (OEG) مطابق کوم خدمات شتون لري؟

د تاوتريخوالي قربانيان کولی شي د زيان د جبران ادعا وکړي او خدمات بايد د امکان تر حد پورې د زيان د سلامتی او اقتصادي پايلې وپوښي، د مثال په توګه د لاندې موارد له لاري:

- **د ناروغانو د درملنې او پاملرنې خدمات**. پدې موارد کې ترديره روغتيايي درملنې، د ارتوپيدي د درملنې مرستندويه موارد، پاملرنه، مصنوعي غاښونه، د رغيدو دوره کې د اغيزو د کچې ارزونه يا د درملنې کار شامل دي. که پدې تړاو پوښتنې لرئ، نو مهرباني وکړئ د ناروغانو د درملنې او پاملرنې يا د تامين اداري پورې اړوند د ارتوپيدي پاملرنې مرکز ته مراجعه وکړئ.

- **د تقاعد خدماتو** کې د افرادو د ډلي له مخې د زيان د جبران لپاره د تقاعد د حقونو ډولونه (د فردي خدماتو پشمول د اساسي تقاعد حقونه او د زيان جبران، د کار د پيښو د زيان جبران) يا د پاتي شويو لپاره د تقاعد حقونه (پشمول د ورته فردي خدماتو، د کفن او خښولو لګښت او د اړتيا په صورت کې د مړيني وروسته مرسته ) شامل دي. پدې تړاو کولی شئ د هامبورګ د تامين اداري کې د قربانيانو د زيان د جبران تخصصي برخي له لاري معلومات لاسته راوړئ.

په تکميلي خدماتو کې لاندې موارد شامل دي:

- **د جګړې قربانيانو د ملاتړ خدماتو** کې د دندې موندلو لپاره مرسته او همدارنګه د ناروغانو د لګښت مرسته، د زړو افرادو د لګښت مرسته او د پاملرنې د لګښت مرسته شامل دي. پدې اړه نور معلومات د تامين اداري اړوند د ملاتړ مرکزي څانګې نه لاسته راوړی شئ.

د تاوتريخوالي له امله د (تروما) زيان سره مخ شوي قربانيانو لپاره خدمات **کولی شئ د لاندې ويب پاڼې نه ترلاسه کړئ:** www.hamburg.de/traumaambulanz.

## څنګه کولی شئ د خدماتو ترلاسه کولو لپاره غوښتنه وکړئ؟

تاسي کولی شئ د هامبورګ د تامین اداري ته غوښتنه وړاندي کړئ. تاسي کولی شئ فورمي په مستقیم ډول همل‌ته یا د انټرنیټ له لاري ترلاسه کړئ: www.hamburg.de/versorgungsamt.
همدارنګه د غیر رسمي غوښتني د وړاندي کولو امکان هم شتون لري. همدارنګه کولی شئ خپله غوښتنه د اداري نورو څانګو او د درملني بیمي یا د تقاعد بیمي موسسي یا اداري ته وړاندي کړئ. تاسي ته لاربښوونه کوو چي دا کار د امکان تر حد پوري ژرتر ژره وکړئ، ځکه چي د ملاتړي خدماتو پیل د غوښتني د وړاندي کولو وخت پوري تړاو لري.

## کوم خدمات ندي پوښل شوي؟

د هامبورګ د تامین اداره د غیرمادي زیان د جبران په تړاو هیڅ پیسي نه تادیه کوي. د غلا شوي یا زیان من شوي شیانو په برخه کي د زیان هیڅ ډول جبران امکان نلري. پدي برخه کي استثنا یوازي هغه مرستندویه وسایلو پوري اړوند ده چي د بدن اړتیا سره تړاو لري، لکه عینک، د اړیکي لینز، مصنوعي غاښ وغیره.
د موټر او ډریورۍ د ټکر له امله پیښ شوي زیانونو په اړه کولی شئ د زیان د جبران صندوق ته
د ټکر د قربانیانو مرستي انجمن **(ثبت شوی انجمن) ته خپله** غوښتنه وړاندي کړئ.

**اړیکه:**
Wilhelmstraße 43, 10117 Berlin
تلیفون: 030 / 20 20 58 58
بریښنالیک: voh@verkehrsopferhilfe.de

## کله د خدماتو وړاندي کول امکان نلري؟

د هامبورګ د تامین اداره د قانون له مخي، په لاندي مواردو کي د خدماتو وړاندي کولو **اجازه** نلري:

- زیان من شوی فرد پخپله د زیان د رامینځته کیدو مسؤل وي.
- د دلایلو له مخي، په ځانګړي توګه د هغه دلایلو له مخي چي د غوښتنه کونکي شخص د چلند پربنسټ وي، د زیان جبران بې عدالتي وګڼل شي. د مثال په توګه، که چیري زیان من شوي شخص لومړی پخپله بل شخص وهلی یا ټپي کړی وي.
- زیان من شوی شخص یا غوښتنه کونکی خپل اصلي هیواد کي په سیاسي یا جنګي شخړو کي په فعال ډول ونده ولري یا مخکي یي درلودله او زیانونه د همدغي اعمالو په پایله کي پیښ شوي وي،
- زیان من شوی شخص یا غوښتنه کونکی په منظم جرمونو کي رول لري یا

ولري، پداسي سازمان پوري تړلی وي یا مخکي تړلی و چي له تاوتریخوالي ډک اعمال ترسره کوي او زیان یي دي موضوع پوري تړاو ولري.

که چیري زیان من شوی شخص د پیښي روښانه کیدو او د مجرمینو د تعقیب سره مخ کیدو په برخه کي مرسته ونکړي، نو د خدماتو وړاندي کولو **امکان** به شتون ونلري. د همدي لپاره زیان من شوی فرد باید سمدلاسه پولیسو ته شکایت وکړي.

## د هیواد څخه بهر د تاوتریخوالي قربانیان

د 1 جولای 2009 راهیسي د هیواد څخه بهر پیښ شوي تاوتریخوالیو د زیان جبران کولو امکان شتون لري.

## کله کولی شئ د هیواد څخه بهر پیښ شوي تاوتریخوالي په تړاو د ملاتړ ترلاسه کولو ادعا وکړئ؟

- د تاوتریخوالي له امله تاسي ته جسمي، روحي او یا رواني زیان رسیدلی وي.
- تاسي په آلمان کي عادي او قانوني اقامت ولرئ. دا پدي معني دی چي: تاسي په آلمان کي ثبت شوی آدرس ولرئ.
- تاسي د پیښي پیښیدو په وخت کي په اعظمي ډول د شپږو میاشتو د لنډمهاله اقامت لپاره بهر میشت وئ، د مثال په توګه د تفریحي سفر په لړ کي.

د تادیي اندازه

## تاسي د هیواد څخه بهر د تاوتریخوالي د قرباني په توګه د کومو خدماتو ترلاسه کولو حق لرئ؟

- د هیواد څخه بهر پیښ شوي تاوتریخوالیو په تړاو، یوازې یو ځل تادیات امکان لري. د تادیې اندازه د زیان د پایلو درجې پورې تړاو لري.
- د رواني درملنې پشمول د لازمي درملنې او روغتیایی رغیدنې چارو خدمات هم وړاندې کیدی شي.
- همدارنګه پاتې شوي افراد د یوځل لپاره تادیات او یو وار اضافه تادیه د تدفین او هیواد ته د بیرته راستنیدو لګښتونو لپاره ترلاسه کوي. علاوه لدې، پاتې شوي افراد د ضروري رواني درملنې د چارو د ترلاسه کولو حق لري.

## معلومات او مشوره

د مشورې په وختونو کې د دوشنبه او پنجشنبه ورځو کې د 8:00 بجو څخه تر 16:00 بجو پورې شخصآ موږ ته مراجعه کولی شئ. د مشورې ساعتونو پرته کولی شئ واردمخه د وخت په تنظیم کولو سره معلومات او مشوره لاسته راوړئ.

**د هامبورګ د تامین اداره**
Adolph-Schönfelder-Straße 5
Hamburg 22083

**د قربانیانو د زیان جبران، د تروما کلینیک**
تلون‌فې: 4 28 63 - 71 7او 6 -7164
فـکس: 4 27 96 - 10 81
کـلـانښبرې: si531@soziales.hamburg.de
ي

**د ارتوپیدي د پاملرنې مرکز**
تلیفون: 4 28 63 - 72 12
فکس: 4 27 96 - 10 82
بریښنالیک: ovst@soziales.hamburg.de

**د ناروغانو درملنه او پاملرنه**
تلیفون: 4 28 63 - 72 12
فکس: 4 27 96 - 10 82
بریښنالیک: huk@soziales.hamburg.de

**د مرکزي ملاتړ څانګه**
تلیفون: 4 28 63 - 72 12
فکس: 4 27 96 - 11 97
بریښنالیک: kof@soziales.hamburg.de

لاسرسی

عمومي حمل او نقل: د Hamburger Straße تمځای U 3 لیکه 37 او 261 بسونه




تاسي همدارنګه کولی شئ په آنلاین ډول ټول معلومات پدې ویب پاڼه کې ومومئ:www.hamburg.de/versorgungsamt